مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۱۹/۱۰/۲۸

# له وطن سره د مینې یوه غوره بېلګه

## «هر چا ته خپل وطن کشمیر دی»

### د فیودر میخایلویچ داستایوفسکي په «د کارامازوف ورونه» نومي اثر کې

### د وطنپالنې څرک

فیودر میخایلویچ داستایوفسکي خپل له ستونزو او کړکېچونو ډک ژوند په وروستیو کې «د کارامازوف ورونه» اثر ولیکه. زما لالا (ډوکتور لطیف بهاند) د نورو روسي شهکارونو تر څنګ د داستایوفسکي دا اثر هم له روسي ژبې نه پښتو ته اړولی دی. دی ډېر ځلې خپل ژباړل شوي آثار ما ته د بیا کتنې له پاره رالېږي چې یو هم په کې د داستایوفسکي «د کارامازوف ورونه» دي.

د ډوکتور لطیف بهاند له لوري ژباړل شوي آثار زه هم د خپلې دندې په توګه په خورا دقت لولم او هم د آثارو د مهموالي په پار یې لوستلو کې ډېر پام کوم. کله مې چې «د کارامازوف ورونه» لوستل، په لومړي ټوک کې مذهبي مسایلو ته د لیکوال ډېر پام، ځینو کرکټرونو او دیالوګونو سخت ستړی کړم، خو ما به خپل کار کاوه. د دویم ټوک په لوستلو کې مې دوو ډېرو جالبو مسألو ته پام شو، په هماغه وخت مې په زړه کې غوټه کړه چې زه به پر دې دواړو په زړه پورو مسألو جلا ـ جلا مقالې لیکم.

**لومړنی** مقالې ته مې سرلیک د داستایوفسکي د یو کرکټر (د تورن مدافع وکیل) له خولې را وتلې جمله **(پلرونو، خپل ماشومان مه خوابدي کوئ!)** وټاکله او دا لنډه مقاله مې د ۲۰۱۹ ام کال د اکتوبر پر درویشتمه (۲۳ مه) په افغان جرمن **پورتال** کې خپره کړه.

**دویمه** مقاله (له وطن سره د مینې یوه غوره بېلګه) همدا ده چې د داستان په پای کې د وطن پالنې ډېرې لنډې جملې د قهرمان له خولې راوزي، خو لومړی په لنډ ډول د خپله داستایوفسکي:

ښاغلی ډوکتور لطیف بهاند د خپلو ادبي هلو ځلو په ترڅ کې د نورو آثارو تر څنګ یو اثر لیکلی چې په هغه کې یې د روسیي د ادبیاتو ډېرې مشهورې او مخورې څېرې، په خورا لوړ ادبي انداز معرفي کړې دي او خپل دې اثر ته یې نوم ورکړی دی: «روسي ادبي ستورې» دی په خپل دې غنمیت اثر کې فیودر میخایل داستایوفسکي داسې راپېژني:

«داستایوفسکي، د روسیي د زرینو ادبیاتو یوه نه تکراریدونکې، ځانګړې او په خپل ډول کې بې سارې نړیواله څېره ده. هغه د ۱۸۲۱ عیسوي کال د اکتوبر پر ۳۰ نېټه پیدا شوی او تر شپیتو کلو ژونده وروسته، د ۱۸۸۱ کال د فبرورۍ په یوولسمه نېټه مړ شوی دی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

داستایوفسکي د روسي ادبیاتو ویاړ، په روسي داستان لیکنه کي د روان او رواني سپړني ستر ماهر او پر نړیوالو ادبیاتو کي، د نه بیانیدونکي اغیز خاوند دی. دی د سترو نه هېریدونکو لیکنو لیکوال و، داسي لیکوال چي نه یوازي په روسیې، بلکي په نوره نړی کي یې تر خپل هېواده هم زیات نوم وګاټه.

داستایوفسکي، دومره ادبي او رواني اغیز درلود، چي اروپایي سوریالیستانو د هغه د اثارو د اتلانو د کرکټرونو له مخي، د خپل ادبي فلسفي ښوونځي بنسټونه جوړ کړل.

د هغه د اثارو او د هغه د اتلانو د بري یوه ستره ځانګړتیا، د هغو ولسیتوب، ساده خلکو ته نېږدېوالی او د هغو تصویرول دي.

... فیودر داستایوفسکي د ژوند په وروستیو کلونو(۱۸۷۹- ۱۸۸۰) کي خپل تر ټولو پیژندل شوی غوره او نامتو اثر د " کارامازوف ورونه" ولیکه. دا رومان یې هم په پرله پسي توګه په "روسکي وستنیک" خپرونه کي خپور کړ...»

د داستان په ترڅ کي سره له دې چي مدافع وکیل خپله ډېره قوي او د قناعت وړ دفاعیه په ډېر مهارت او هنر سره وړاندي کړه، خو د محکمي وروستی پریکړه دا شوه چي تورن باید تبعید شي، سایبریا ته تبعید شي. له دې سره سم د قهرمان د ملګرو له خوا د تښتېدو وړاندیز کېږي. محکوم قهرمان وایي چي هلته هم که لاړ شم، هغو خلکو ته پردی یم، ځوک مي نه مني او هلته هم ژوند کول بل تبعید دی، نو دلته په سایبیریا کي که تبعید کېږم؛ نو خپل وطن کي خو به یم، له خپلو خلکو سره خو به یم او...

قهرمان د وطن پرستی روحیې له مخي د خپل وطن زندان، د بل وطن له آزادی نه غوره ګڼي او له وطن څخه تېښتي ته زړه نه ښه کوي. په لاندي جملو کي د قهرمان (میتیا) انکار او نه تګ د وطن پرستی د روحیې یوه غوره بېلګه او لوی درس ګڼل کېږي:

«... میتیا، له خوښی نه په ډکي خندا، چغه کړې: زما په دې خوښېږي، چي ټل رښتیا وایي او هیڅ څه نه پټوی. دا په دې مانا، چي ما خپل الیوشا د ایزوتي پر وخت منلی دی.

تا باید له همدې امله مچ کړم، پوهېږې او کنه؟ ګوره اوس نو غوږ شه، زه به درته د پاتي، د خپل زړه د بلي نیمایي درته ووایمه. دا دي، دا هغه څه دي، چي ما فکر پرې کړی او پریکړه مې پرې کړې ده:

که زه وتښتم، آن له پیسو او پاسپورټونو سره، او آن امریکا ته، نو ما به دا خیال خوشالوي، چي زه له خوښی نه، نه تښتم، زه نیکمرغی ته نه ورتښتم، بلکي په حقیقت کي بل تبعیدي ځای او بلي سایبریا ته ورتښتم او کېدای شي، تر دې نه، هم لا بدتره. ګوره الیوشا د زړه له کومي وایم، تر دې لا بدتره. هو، الکسي تر دې بدتره، رښتیا درته وایم، تر دې بدتره.

دې امریکا پسي دي بلا وي، له هغي نه همدا اوس زه کرکه لرمه. پرېږده، چي ګروشینکا هم له ما سره وي، نو ته یو وار ورته وګوره، آیا هغه امریکایي ده؟ هغه یوه روسی ده، هغه آن د آدوکو تر شپېلیو پورې روسی ده.

هغه به خپلي مورنی خاورې پسي خفه کېږي او زه به هر ساعت ګورم، چي هغه به زما په خاطر دا خفتیان او زوروېدل زغمي او هغې زما په خاطر دا صلیب (قرباني) منلي ده. آخر ګناه یې څه ده؟ او آیا زه به د هغو پردیو بوینو رزیلو خلکو زغم ولرم، که څه هم کېدای شي، د هغو هر یو له پیله تر پایه، تر ما نه غوره وي. زه له دې امریکا نه، نور نو کرکه لرم. که څه هم هغوی ټول، هر یو له پیله تر پایه، غوره ماشین چلوونکي و اوسي، بیا هم بلا ورپسي، هغه زما خلک نه دي، زموږ له روح سره نه لګېږي. الکسي، روسیه راته ګرانه ده، که څه هم زه خپله یو دوه مخی ناولی یمه، د روسیي خدای راته ګران دی.

نابېره یې سترګي وځلېدې او چغه یې کړل: زه به هلته خوسا شم.

او آواز یې له ساندو او اوښکو نه په رېږدېدا شو. بیا یې پر خپلي ګښنی زور راوړ او وې ویل:

هو، الکسي ما داسي پرېکړه وکړه. اوري! له ګروشینکا سره، چي هلته ورسېږو، سمدلاسه به ځمکي اړولو، له وحشي ځناورو سره به کار کوو او کوم چېرې لرې، لرې به جلا ژوند لرو. ګوره، هلته خو به چېرې کوم لرې ځای پیدا کېږي. وایي، هلته لا تر اوسه سره پوستان پیدا کېږي، هلته، چېرې لرې د آسمان په لمنو کي، هو، د دنیا په اخره کي، له وروستیو موګیکانو (بومي خلک) سره. نو سمدلاسه به ګرامر ته مخه کړو، زه او ګروشینکا. کار او ګرامر.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

او همداسي درې کاله. او د دې درې کلونو په اوږدو کې به، انګریزي داسي زده کړو، لکه په خپله انګریزان چې پرې غږېږي.

او همدا، چې انګریزي مو زده شوه، امریکا به نور خلاصه وي. بېرته به لکه د امریکایي اتباعو په څېر، روسیې ته راوتښتو. تاسو ډارېږئ مه، دې ورو ښارونو ته نه راځو. چېرته له دې ځایه لرې به، په شمال او یا جنوب کې پټ شو. تر هغه به، زه هم په امریکا کې بدل شم، د هغې څېره به هم بدله شي، ما ته به کوم داکتر کومه ږېره ګوتې راجوړه کړي، هغوی خو هسې بې ځایه میخانیکان نه دي. او کنه، خپله یوه سترګه به راوباسم، داسې یو ارشین اوږده ږېره به پرېږدم، وېښته به مې سپین شي، د روسیې له غمه به مې، وېښته سپین شي. هېڅوک به مو نه پېژني. او که ومو پېژني، پروا نه لري، دا په دې مانا، چې قسمت به مو همداسې وي. دلته به هم، چېرې لرې په کوم ډاګ کې ځمکې اړوو او ټول عمر به ځان امریکایي امریکایي کوو.

نو ګټه به یې دا وي، چې په خپله پلارنې خاورو کې مو نفس وخېژي. دا ده، دا زما پلان و، نه بدلېدونکې پلان. څنګه تاییدوې یې؟» ۳۹۸ ـ ۳۹۹ مخونه

## «هر چا ته خپل وطن کشمیر دی!»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ